د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۳۰۵** (از ۱۸ الی ۲۵ جوزا ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

آنچه در این شماره می‌خوانید:

## په افغانستان کې د جنګي جرمونو د څېړلو سره مخالفت، یوه حقوقي ارزونه

جنګي جرمونه کوم جرمونه دي؟............................................................ ۲

په افغانستان کې د امریکایانو لخوا تر سره شوي جرمونه................................... ۳

نړیواله جنايي محکمه کومو جرمونو ته د رسیده ګۍ واک لري؟.................................. ۴

ایا پر امریکا د نړیوالې جنايي محکمې پریکړې تطبیق کېدای شي؟.............................. ۶

دپای خبره..................................................................................... ۷

## روز مادر و مشکلات مادران افغان

چالشهاییکه زنان افغان با آن روبه رو اند:.............................................................. ۹

پیشنهادات........................................................................................ ۱۱

## په افغانستان کې د جنګي جرمونو د څېړلو سره مخالفت، یوه حقوقي ارزونه



متأسفانه زمونږ ګران هېواد افغانستان کې د دربېو لسیزو راهیسې جګړه روانه ده او نه یوازې د هېواد مادي او معنوي شتمنۍ یې له منځه وړې بلکې د جګړې ښکېلو خواو له لوري داسې کړنې ترسره شوي دي چې د انساني کرامت، اسلامي شریعت، د بشردوستنې نړیوال قانون او نړیوالې جنايي محکمې له اساسنامې سره په بشپړه توګه خلاف او تول جنګي او د بشریت پر ضد جنایتونه دي، په دې وروستیو کې د نړیوالې جنايي محکمې څارنوالې فاتو بېنسودا ( Fatou Bensouda) له نړیوالې جنايي محکمې څخه غوښتي دي چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو لخوا د جنګي جرمونو د څېړلو د مختیوي په اړه وضاحت ورکړي ځکه دغې څارنوالې پخوا له نړیوالې جنايي محکمې غوښتي وو چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو لخوا ترسره شوي جنګي جرمونه دې وڅېړل شي او په اړه یې باید نړیواله جنايي محکمه عادلانه پریکړه ترسره کړي.

جنګي جرمونه کوم دي، په افغانستان کې د امریکایانو له لوري تر سره شوي جرمونه، ددې جرمونو د څېړلو لپاره د نړیوالې محکمې صلاحیت او مسؤولیت څه دئ او د محکمې د غوښتنو په اړه امریکا څه دریځ لري دې پوښتنو ته ددې اوونۍ په تحلیل کې ځواب ویل شوی دی.

### جنګي جرمونه کوم جرمونه دي؟

د ملګرو ملتونو د منشور له مخې جنګي جرمونه په لاندې ډول دي:

۱ـ هر ډول جګړیز او تیري کونکی عمل چې د سولي پر ضد وي.

۲ـ بي رحمانه ظلمونه د هر قوم او قبیلې پر غیر نظامیانو باندي.

۳ـ ډله ییزې وژنې، د خلکو کوچول، په ډلییزه توګه په زندانونو او نورو ځایونو کې د خلکو اچول.

د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې د اتمې مادې په اساس جنګي جرمونه په دې ډول په نښه شوي دي:

۱ـ د هغو اموالو تخریب چې نظامي اړتیاوو په موخه ترې ګټه نه اخیستل کېږي.

۲ـ د جنګي بندیانو او هغه اشخاصو سره چې په خپله خوښه تسلیم شوي وي ناوړه چلند او د هغوی او نورو اشخاصو په اجباري ډول د جګړې په لیکو کې جذبول.

۳ـ دښارونو، کلیو، بې دفاع ساختمانونو چې نظامي اهداف نه وي بمبارول یا پرې حمله کول.

۴ـ داسې اسلحو،توپونو او موادو کارول چې زیات ضرر لري.

۵ـ جنسي تیری.

٦ـ د انسان پر جسم او ځان باندي تاوتریخوالی په ځانګړي توګه وژب، بې رحمانه شکنجه ورکول او داسې نور.

## په افغانستان کې د امریکایانو لخوا تر سره شوي جرمونه

له ۲۰۰۱ م کال نه چې امریکایانو په افغانستان کې خپل نظامي حضور پیل کړ له هغه وخت نه یې په افغانستان کې خپل نظامي وسایل او اسلحې د امتحان په پار د افغانستان په خاوره کې استعمال کړلې او اوس یې هم استعمالوي دوی په افغانستان کې په ودونو، جنازو، مسجدونو، روغتونونو، کلیو او بانډو کې هغه اسلحې او بمونه استعمال کړل چې د هغه استعمال د نړیوالې ټولنې لخوا منع شوی دی د مثال په ډول د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې د بمونو د مور استعمال چې د ملي یووالي حکومت لخوا ددې ډول بمونو د استعمال تود هر کلی هم وشو.

همدا ډول Daisy cutter, cruse, AGM missiles او د GM-13 موشکونو استعمال د ننګرهار په توره بوره، د هلمند په مارجه، کندهار په میوند او ډېری داسې نورو سیمو کې د دوی له لوري استعمال شوي او اوس هم استعمالیږي.

## نړیواله جنایي محکمه کومو جرمونو ته د رسیده ګۍ واک لري؟

د جنائي جرمونو نړیواله محکمه International Criminal Court (ICC) د هالنډ په هاګ کې، د ۲۰۰۲ م کال په جولای میاشت کې جوړه شوه. د دغې محکمې اساسي دنده دا ده، چې د دغې اداري د تاسیس له نېټې راوروسته په غړو هېوادونو کې جنګي جرمونه، ټولوژنې، د بشر ضد جرمونه او نورې ورته قضیې وپلټي. نوموړې اداره یوازې د هغو حقیقي افرادو د جرمونو قضیې څېړي، چې عمر یې تر ۱۸ کلونو پورته وي او د تورنو کسانو رسمي پوست او مرتبه هم د دغې محکمې په صلاحیتونو څه اغېز نه لري.

د هاک نړیواله محکمه کې د افغانستان په شمول ۱۲۲ هېوادونه غړي دي. د نړۍ له مهمو هېوادونو څخه چین، روسیې او امریکا چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دایمي غړي دي، که څه هم په ۱۹۹۸ کال کې، په روم کې د دغې محکمې اساسنامه لاسلیک کړې؛ خو لا یې هم د دغې محکمې غړیتوب نه دی اخیستی.

افغانستان په ۱۳۸۱ هجري لمریز کال د دلوې په ۲۱ نېټه چې د ۲۰۰۳ میلادي کال د فبرورۍ له لسمې نېټې سره سمون لري دا اساسنامه لاسلیک کړې ده او دا چې هغه مهال افغانستان پارلمان نه درلود نو د افغانستان امضاء پرته له دې چې تصویب شي د اعتبار وړ ګڼل شوې او غړیتوب یې حاصل کړی دی.

د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې په پنځمه ماده کې د محکمې تر صلاحیت لاندې څلور ډوله جرمونه قرار لري چې په لاندې ډول دي:

۱/ د نسل وژنې جرمونه: د شپږمې مادې په اساس هر هغه عمل چې د هغه په واسطه یوه برخه او یا ټوله برخه د ملت، قوم، نژاد او مذهب د نابودۍ سبب شي دېته نسل وژنه وایي.

۲/ د بشریت پر ضد جرمونه: هر هغه عمل چې هغه د غیر نظامیانو پر وړاندې تر سره کیږي که هغه قتل دی، که په غلامۍ نیول دي یا هم د خپلې خاورې شړل دي دا دې بشریت پر ضد جرمونه دی.

۳/ جنګي جرمونه: نړیوالې جنایي محکمې جنګي جرمونه تقریبا په ۲۶ برخو باندې وېشلي چې دلته یې قصدي وژنه، شکنجه،د کورونو ښارونو او کلیو بمبارول، بې دلیله بندیانول او دېته ورته اعمال د بېلګې په ډول راوړلی شو.

۴/ د تجاوز جرمونه: ددې جرم نه یې مطلب ارضي تمامیت د هېواد دی خو د هېوادونو د اختلاف نظر د موجودیت له امله یې په اساسنامه کې نه دی تعریف کړی.

د پورتنیو جرمونو له ډلې یو هم جنګي جرم دی چې د یادې اساسنامې د پنځمې مادې په اساس نړیواله جنایي محکمه دې ډول جرمونو ته د رسیده ګۍ واک لري او کولای شي چې مرتکبین یې مجازات کړي.

## ایا پر امریکا د نړیوالې جنایي محکمې پریکړې تطبیق کېدای شي؟

پر دولتونو باندې د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې د احکامو د تطبیق له حیثه موږ د نړۍ ټول دولتونه پر درې ډوله وېشو

**لومړی**: هغه هېوادونه دي چې اساسنامه یې امضاء کړې او هم یې د خپل هېواد په پارلمان کې تصویب کړې ده. دغو هېوادونو د محکمې غړیتوب ترلاسه کړی دی او د محکمې بشپړ غړي ګڼل کیږي چې فعلاً د دې هېوادونو شمېر ۱۲۰ هېوادونو ته رسیږي چې پر دوی باندې اساسنامه مطلقاً د تطبیق وړ ګڼل کیږي.

**دویم**: هغه هېوادونه دي چې تر اوسه یې دا اساسنامه نه امضاء کړې او نه یې تصویب کړې ده. دا هېوادونه د اساسنامې په متعلق په مطلق ډول هېڅ مسؤلیت نه لري او د اساسنامې احکام پر دوی باندې د تطبیق وړ نه دي. یواځې په یو صورت کې ددې اساسنامې احکام پر دوی باندې د تطبیق وړ ګڼل کیږي چې دوی په خپله خوښه د یوې مشخصې قضیې په برخه کې د اساسنامې احکامو د تطبیق غوښتنه وکړي نو بیا یواځې په هماغه مشخصه قضیه کې د اساسنامې احکام پر دوی باندې د تطبیق وړ ګڼل کیږي او دغه هېوادونه په هماغه مشخصه قضیه کې د اساسنامې احکامو منلو ته مجبوریږي.

**دریيم**: بین البیني هېوادونه دي، یعنې دا هغه هېوادونه دي چې اساسنامه یې صرفاً امضاء کړې ده ولې تصویب کړې یې نه ده. دا هېوادونه د پرنسیب له لحاظه د اساسنامې په مقابل کې کوم مکلفیت نه لري ولې سره د دې هم د دې لپاره چې د اساسنامې د تصویب لپاره یې یو پړاو تکمیل کړی دی نو ددې لپاره چې فعلاً د دوی موقف روښانه نه دی نو که غړیتوب ترلاسه کړي او که نه د موقف د روښانه کېدو تر وخته مکلف دي چې د اساسنامې د عمومي پرنسیپونو یا روحیې مخالفې کړنې او اعمال ترسره نه کړي. البته کله چې ددې هېوادونو موقف روښانه شي نو له دوه حالته به خالي نه وي.

یا دا چې دوی به له غړیتوب نه صرف نظر وکړي یعنې اساسنامه به په خپلو پارلمانونو کې تصویب نه کړي نو په دې حالت کې بیا له دې قید نه په اینده کې خلاصیږي او غیر غړو هېوادونو په قطار کې راځي.

یآ دا چې دوی به دا اساسنامه تصویب کړي نو په دې حالت کې دوی بیا غړي ګڼل کیږي او د اساسنامې احکام او قواعدوورباندې مکملاً تطبیق کیږي.

امریکا متحده ایالات د نړیوالې جنايي محکمې اساسنامه په پارلمان کې نه ده تصويب کړې بلکې يواځې يې امضاء کړې ده ولې تېر کال له خپلې امضاء هم تير شو او فعلاً د نړيوالې جنايي محکمې غړی هېواد نه ګڼل کېږي نو ځکه پرې د دغې محکمې هېڅ ډول حکم د تطبيق وړ نه دی. د يادولو وړ ده چې امريکا هغه هېواد دی چې د نړيوالې جنايي محکمې د جوړېدو پرمهال يې مخالفه رايه ورکړې وه او دليل يې دا وو چې دا زموږ د ملي حاکميت سره په ټکر کې ده. دا سمه ده چې د نړيوالې جنايي محکمې احکام په دغه هېواد نه تطبيق کېږي ولې که چيرې دوی د نړيوالې جنايي محکمې په يو غړي هېواد کې د دې محکمې د صلاحيت لاندې جرايم ترسره کړي نو بيا په دوه حالاتو کې محکمه کولای شي چې دغو جرمونو ته رسيده ګي وکړي اول ـ کله چې غړی هېواد محکمې ته شکايت وکړي او دويم دا چې د محکمې څارنوال قضيه محکمې ته ارجاع کړي. دا چې افغانستان د محکمې مکمل غړی هېواد تر اوسه يې د امريکايي پوځيانو له جنګي جنايتونو محکمې ته شکايت نه دی کړی خو په دې وروستيو کې د محکمې څارنوالې فاتو بېنسودا غوښتنه کړې ده چې د امريکايي پوځيانو جنګي جنايت دې په افغانستان کې وڅېړل شي چې متأسفانه د محکمې لخوا دا موضوع نه ده تعقيب شوې، د نه تعقيب دلايل يې ډېر زيات دي خو دلته د هارورډ د حقوقو مکتب د پروفيسور (Alex Whiting) دلايل رانقلوو چې نوموړی دغه دلايل وړاندې کوي:

1. د امريکايانو سياسي نفوذ او پر نړيوالې جنايي محکمې يې اغيزې.
2. پر افغان دولت فشار واردول تر څو له نړيوالې جنايي محکمې سره په دغه څېړنو کې همکاري ونه کړي او د دې څېړنو سره مخالفت وکړي.
3. د امريکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ لخوا ګواښ چې که چېرې دې څېړنو ته ادامه ورکړې نو خپل مالي امکانات به پر دې محکمه ودروي.
4. د امريکايي حکومت له خوا ګواښ که چيرې دې څېړنو ته ادامه ورکړي نو د محکمې په قاضيانو به بنديزونه ولګوي او امريکا ته د راتګ ويزې به ورنکړي.[1]

### دپای خبره

د جنګي جنايتونو د څېړلو سره د سپينې مانۍ د جدي مخالفت څخه خو دا ښکاري چې امريکايي پوځيانو په افغانستان کې په پراخه کچه جنګي جنايتونه ترسره کړي دي او دغه هېواد له دې ويره لري چې که چيرې دا جنايات وڅېړل شي نو امريکا به ورسره بدنامه او پوځيان به يې د محاکمې ميز ته کش کړی شي له همدې امله په خپل ټول توان په دې محکمه فشار واردوي چې يادې څېړنې ترسره نشي او تراوسه پورې دا کار بريالی دی.

خو آزادۍ نړۍ ته دا په کار ده چې د افغانستان د خلکو غږ واوري او د دې جنایاتو د څېړلو په خاطر د عدالت د نړیوالې محکمې حوصله افزایي او ملاتړ وکړي. هغه هم په داسې حالاتو کې چې په ظاهره افغان جګړه مخ په ختمېدو ده او شاید امریکایي پوځیان طالبانو سره د موافقې نه پس، په بشپړه توګه افغانستان نه ووځي. د انصاف تقاضا خو همدا ده چې امریکایان دې د افغانستان څخه د وتو څخه دمخه، دلته د تویو شویو وینو او شویو جنګي جنایاتو حساب نړیوالو ته ورکړي.

# روز مادر و مشکلات مادران افغان



بیست و چهارم جوزا، روزی است که به پاس قدردانی از زحمات بیکران مادران تجلیل میشود. یکی از نقش های زن مادر بودن است که در کنار سایر امور از پس این مسؤلیت سنگین بخوبی بیرون میاید. مادران در دنیای امروزی، با وجود سهولت های، هنوز هم دچار یک سلسله مشکلاتی است که بدون در نظر داشت اینکه در کدام کشور چه سهولت های برای شان فراهم گردیده است. ولی در کشور های در حال توسعه و جهان سومی، مادران از امکانات کمتری نسبت به کشورهای توسعه یافته برخوردارند. در تحلیل این هفته در رابطه به چالش های مادران افغان به نسبت سهولت های مادران غربی و به خصوص اروپایی میپردازیم.

## چالشهاییکه زنان افغان با آن روبه رو اند:

**۱.عدم دسترسی به خدمات صحی:** مادران افغانی که در ولایات دور دست، قرا و قصبات زندگی میکنند به خدمات صحی دسترسی ندارند. به دلیل نبود شفاخانه، مادران در هنگام زایمان یا میمیرند و یا به امراض گوناگونی مصاب میشوند. علت عدم وجود خدمات صحی در قرا و قصبات همانا عدم وجود امنیت در این مناطق میباشد. که این سبب افزایش مرگ و میر مادران گردیده است. در حالی که در کشورهای اروپایی و آمریکایی، مادران باردار از کمک های مخصوص بارداری از جمله بسته مادری و پول مادری برخوردار میباشند. و همچنان در آسترالیا و بعضی کشورهای

اروپایی اوسط ارزش تولد یک طفل در حدود ۵۳۱۲ دالر میباشد. و همچنان مرگ و میر اطفال به حد پایین است که در فنلند و هسپانیا در ۱۵۱۰۰ طفلی که به دنیا میایید یکی آن میمیرد.

**۲. خدمات آموزشی \ تحصیلات:** عدم دسترسی به مکاتب و دانشگاه ها در نقاط دور دست کشور، موجب پایین بودن سطح سواد و یا بی سوادی گردیده است. که این خود مستقیما مرتبط است به عدم دسترسی آنان به کار، اشتغال و منابع مالی، که یکی از مشکلات بزرگ این خانم ها به حساب میاید. نظر به عرف و عنعنات مروج و دین اسلام، اکثر زنان به سبب وجود دانشگاه های مختلط از ادامه تحصیل باز میمانند و این خود یکی از عوامل سطح پایین سواد در افغانستان میباشد. در کشور های اروپایی برای مادرانی که بخواهند تحصیلات خود را ادامه دهند میتوانند دروس دانشگاهی خود را رایگان ادامه دهند. که این سهولت برای مشترکینی در برنامه به نام exchange program هست شامل میشوند. و یا هم شرکت های مشخصی از زنان در راستای تحصیل شان از آنان حمایت میکنند و بعد از اتمام دروس شان در خود این شرکتها به کار گماشته میشوند.

**۳. ضعف حمایت دولت:** جنگ و ناامنی در افغانستان سبب گردیده که جان مردهای بیشتر خانواده های افغان گرفته شود و مادران سرپرستی خانواده را به دوش گیرند. اما وزارت امور زنان می گوید دولت هیچ میکانیزمی برای حمایت این زنان در اختیار خود ندارد. وزارت تنها کاری که میکند این است که زنان و مادران سرپرستی که علاقمند آموزش حرفه باشند را به نهاد های محلی فعال در این زمینه معرفی می کند. دولت برنامه اصلاحی را اگر در نظر گرفته مختص به شهرهای بزرگ میشود حالانکه در قرا و قصبات چنین برنامه های برای مادرانی که بی سواد اند و بیشتر جمعیت زنان افغانستان را تشکیل میدهند و نظر به توانایی و استعدادهای شان از آنها استفاده نگردیده است. در کشور های اروپایی برای اینکه زنان نیز رشد و پیشرفت در عرصه تخصصی خود داشته باشند برابری جندر در بالاترین حد اجندای سیاسی شان قرار دارد و زنان در کنار وظیفه مادری خود پیشرفت در زندگی تخصصی شان نیز میکنند. زنان در بعضی از کشورهای اروپایی بزرگترین نیروی کارگری را تشکیل میدهند از همین رو، مادران بیشتری از سیستم وسیع محافظت از اطفال شان مستفید گردیده اند تا دوباره به شغل خود مراجعه کنند حال آنکه طفل خیلی خوردسالی دارند. که این سیستم از طرف دولت های این کشورها در نظر گرفته شده است هم سهولت ها برای مادران در نظر گرفته شده و هم با استفاده از این نیرو چرخ اقتصادی خود را به گردش میاورند. دولتها جهت رفاه و آسایش مردم از چنین سیستم ها حمایت میکند. دولت برای رفاه و آسایش مادران به تدوین و تصویب قانون برای حفاظت از مادران و اطفال میپردازد. مادران برعلاوه اینکه از طرف دولت حمایت میشوند از طرف سازمان های بین المللی و NGO ها نیز حمایت میشوند. و قوانینی را برای سهولت بیشتری مادران به پارلمان این کشورها پیشنهاد میکنند. مادران تنهای که در فقر و

تنگدستی قرار دارند در کنار سعی و تلاش خود و پالیسی حمایوی دولت به تربیت اطفال خود میپردازند. پالیسی حمایوی دولت شامل: سیستم حفاظت از اطفال، حمایت اطفال، ضمانت حداقل دستمزد، دسترسی برابر و کار با کیفیت بلند، پشتیبانی از پالیسی مسکن و حمایت اجتماعی.

**۴. مشکل اشتغال:** مادران در افغانستان، به سبب تحصیلات پایین و حتی بی سوادی دست به انجام کارهای سنگین و بالاتر از توان خود، برای پیدا نمودن لقمه نانی میزنند و بعض مواقع حتی به گدایی روی می آورند که این چنین موارد موقتی بوده و کفاف زندگی شان نمیباشد. حالانکه در سایر کشورها به خصوص کشورهای اروپایی برای چنین مادران دولت یک اندازه پولی را در نظر میگیرد و یا سهولت های بیشتری را به لحاظ کاری مدنظر میگیرد تا مادر هم به شغل خود رسیدگی کند و هم به مسؤلیت های خانوادگی. مادری که میان فشارهای کاری و فامیلی خود قرار گیرد انتخاب های گوناگونی را جهت ایجاد توازن در زندگی خود امتحان میکند. چنانکه مادرانی که زایمان میکنند مرخصی همراه با معاش برایش در نظر میگیرند به طور مثال: در کشور ناروی برای مادری که ولادت میکند ۳۵ هفته مرخصی همراه با معاش کامل و یا ۴۵ هفته مرخصی همراه با ٪۸۰ پرداخت معاش میباشد.

**۵. مشکلات اجتماعی:** برداشت و برخورد نادرست اجتماعی زنان تنها و مادران سرپرست که، شوهران شان را به هر دلیلی از دست داده یا از آنها جدا شده اند یک چالش دیگر است. ظلم و خشونت های خانوادگی یکی دیگر از مواردی است مادران را شدیداً تحت فشار قرار داده که بعضاً منجر به طلاق یا فرار از خانه و بعضاً هم به خودکشی می انجامد. پدیده طلاق در افغانستان به دیده تابو نگریسته میشود و زنی که مطلقه باشد غالباً ازدواج مجدد نمیکند. در حالی که در غرب، در مورد زنانی که شوهران خود را از دست میدهند و یا جدا میشوند و خود سرپرستی خانواده را به دوش میگیرند یک مسئله عادی پنداشته میشود و هرگاه اگر خشونتی از طرف یکی از اعضای خانواده خود ببینند به نهاد های قضایی مراجعه میکند و به چنین مسائل رسیدگی میشود و همچنان حمایت به اجتماع را نیز با خود دارند.

## پیشنهادات

به خاطر بهبود وضع زنان؛ به خصوص مادران، لازم است تا حکومت و مردم افغانستان به موارد آتی توجه جدی نمایند:

۱.ایجاد یک میکانیزم حمایتی قانونی.

۲. دولت حمایت اقتصادی برای مادران را در نظر گیرد.

۳. دولت باید کورس های سواد آموزی و حرفه های گوناگون را راه بیاندازد.

۴. کار آفرینی برای مادران سرپرست.

۵. دولت امنیت را تامین کند تا سایر سهولت های چون خدمات صحی و خدمات آموزشی به نقاط دور دست راه پیدا کند.

٦. سرمایه گذاری خصوصی را به این بخش جلب نماید تا با استفاده از راهکارهای سایر افراد، زمینه را برای خودکفایی زنان هموار سازد.

۷. ایجاد سهولت برای دسترسی زنان به نهادهای عدلی و قضایی.

۸. مبارزه با حاکمیت عرف و عنعنات ناپسند.

۹. فرهنگ معافیت از مجازات.

۱۰. دولت باید دانشگاه های مخصوص زنان را در رشته های که متقاضی آن بیشتر باشد چون: روانشناسی، طب، تعلیم و تربیه، علوم ساینسی و علوم اجتماعی... را یا به شکل دولتی و یا خصوصی راه اندازی کند. دولت حداقل در شهرهای بزرگ چنین دانشگاه های را داشته باشد تا مشکل رفع گردد.

---

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

ویب‌سایت:www.csrs.af -– www.csrs.com

شمارۀ تماس دفتر: (93+) 202564049 - 784089590 (0) 93 +

**لطفا نظریات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.**